# یونیسف افغانستان

**د بشري وضعیت راپور**
**د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ میاشتې له لومړۍ نېټې څخه د جون میاشتې تر ۳۰مې نېټې پورې**
**شپږمه شمېره راپور**

## مهم ټکي

- په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د یونیسف تر ملاتړ لاندې روغتیايي مرکزونو له لارې څه باندې **۱۸.۹ میلیونه خلکو اساسي روغتیايي خدماتو** ته لاسرسی موند.
- یونیسف **۶.۸ میلیونه ماشومان** د **خوارځواکۍ** د تشخیص لپاره معاینه کړل او **۳۶۳,۸۱۰ ماشومانو** ته چې پر شدیدې خوارځواکۍ او د لوړ خطر لرونکې منځنۍ کچې خوارځواکۍ اخته وو، درملنه برابره کړه.
- یونیسف د ټولنیزو زده کړو او د زده کړې د لنډمهالو مرکزونو له لارې **۵۵,۹۳۷ زیانمنو ماشومانو** ته د زده کړې زمینه برابره کړه، چې په کې بېرته راستانه شوي او له ښوونځي پاتې ماشومان هم شامل وو چې **له دغو ماشومانو څخه ۶۷ سلنه نجونې وې**.
- د یونیسف د مور او ماشوم **د نغدي مرستې پروګرام له ۶۵,۱۶۲ کورنیو** سره مرسته وکړه، چې په پایله کې **۵۷۶,۲۷۹ کسانو** ته یې ګټه ورسېده. شواهد ښیي چې دغه پروګرام د خوړو خوندیتوب او د میندو او ماشومانو د روغتیا په وضعیت کې ښه والی راوستی دی.

## د وضعیت عمومي کتنه او بشري اړتیاوې

افغانستان د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمایي کې هم د نړۍ له سترو بشري ناورینونو څخه یو پاتې شو. د ۲۰۲۶ کال د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان له مخې، اټکل کېږي چې ۲۱.۹ میلیونه[1] کسان، چې د هېواد د ټول نفوس ۴۵ سلنه جوړوي، بشري مرستو ته اړتیا لري، چې له دې ډلې ۱۱.۶ میلیونه ماشومان دي. د بشري برخې د همکارو مؤسسو دا وه چې د ۱.۷۱ میلیارده امریکايي ډالرو په ارزښت د غبرګون له لارې ۱۷.۵ میلیونه کسانو ته مرستې ورسوي، خو د راپور ورکولو په ټوله موده کې د بودیجې ډېر کمښت د بشري مرستو بهیر له جدي ستونزو سره مخ کړی و. بشري اړتیاوې لا هم د اقتصادي کمزورۍ، دوامداري بې وزلۍ، د خوړو ناامنۍ، د اقلیمي بدلونونو له امله د رامنځته شویو پېښو، د ناروغیو د تکراري خپرېدو، د خلکو د لېږد را لېږد او د ښځو او نجونو پر وړاندې د محدودیتونو د ګډو اغېزو له امله زیاتې شوې وې. د جون تر میاشتې پورې، د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان یوازې ۲۳۹ میلیونه[2] امریکايي ډالر ترلاسه کړي وو، چې شاوخوا ۱.۴۷ میلیارده امریکايي ډالر د بودیجې کسر پاتې کېده. له همدې امله، د بشري مرستو فعالان اړ شول چې خپل فعالیتونه کم کړي او یوازې ژوند ژغورونکو مرستو ته لومړیتوب ورکړي[3].

د ۲۰۲۶ کال لومړۍ شپږ میاشتې د ګڼو هم‌مهالو ناورینونو شاهدې وې، چې د کورنیو د مقاومت وړتیا یې لا نوره هم کمزورې کړه او پر بنسټیزو خدماتو یې فشار زیات کړ. د خوړو ناامنې د بشري اړتیاوو له مهمو لاملونو څخه وه. د خوړو د خوندیتوب د پړاوونو د وروستۍ ارزونې له مخې، اټکل کېږي چې ۱۷.۴ میلیونه کسان د خوړو له شدیدې ناامنۍ (د خوړو د خوندیتوب د پړاوونو دربیم پړاو یا تر هغه لوړ) سره مخ دي، چې له دې ډلې ۴.۷ میلیونه کسان د یادې ارزونې څلورم پړاو (بېړني حالت) کې دي. دا د تېر کال د اټکلونو په پرتله د وضعیت خرابوالی ښیي[54]. اقتصادي زیانمنتیا هم پراخه وه، ځکه د خلکو لویه برخه پر ورځني مزدورۍ، د ځان بسیا کرنې او غیر رسمي عایداتي سرچینو متکي وه، چې د موسمي بدلونونو او د بازار د ستونزو پر وړاندې ډېرې زیان منونکې دي. د انفلاسیون زیاتوالی، د ترانسپورټ د لګښتونو لوړوالی، د پېرلو ځواک کمېدل او په سیمه ییزه سوداګرۍ کې دوامدارې ستونزې د دې لامل شوې چې ډېرې کورنۍ د خپلو لومړنیو اړتیاوو په پوره کولو کې له لا ډېرو ستونزو سره مخ شي.

د راپور ورکولو په ټوله موده کې د تغذیې وضعیت خورا اندېښمنونکی و. اټکل کېږي چې په ۲۰۲۶ کال کې به تر پنځو کلونو کم عمره ۳.۷ میلیونه ماشومان پر حادې خوارځواکۍ اخته شي، چې له دې ډلې نږدې ۹۴۲ زره ماشومان به پر شدیدې حادې خوارځواکۍ اخته وي. همدا راز اټکل کېږي چې ۱.۲ میلیونه امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې به هم پر حادې خوارځواکۍ اخته وي. د هېواد په څو ولایتونو کې د تغذیې وضعیت نور هم خراب شو او اټکل کېږي چې فاریاب او پکتیکا به د حادې خوارځواکۍ له بحراني کچې سره مخ شي. په فبرورۍ میاشت کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د سرحدي نښتو له امله په ختیځو ولایتونو کې د تغذیې خدمات اغېزمن شول، چې له امله یې د تغذیې ۱۶ مرکزونه په لنډمهاله توګه وتړل شول او څه باندې ۱,۰۰۰ ماشومان او ۲۰۰ امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې د درملنې له خدماتو بې برخې شوې.[6] د ۲۰۲۶ کال له اپرېل راهیسې د بشپړوونکې تغذیې د توکو کمښت او د درملیزو خوړو (RUTF) د اکمالاتو ځنډ د درملنې پروګرامونو ته د نویو ناروغانو د شاملېدو شمېر کم کړی، په داسې حال کې چې په روغتونونو کې د بستر کېدو اړتیا لرونکو ماشومانو د شمېر زیاتوالی د تغذیې د وضعیت د خرابېدو او درملنې ته د ناوخته لاسرسي ښکارندویي کوي.

---

[1] اوچا، د افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان ۲۰۲۶
[2] اوچا، د افغانسان د بشري وضعیت تازه حال، د ۲۰۲۶ کال مې میاشت
[3] اوچا، د مالي تعقیب خدمات، د ۲۰۲۶ کال جون میاشت
[4] اوچا، د افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان د ۲۰۲۶ کال لنډیز
[5] د ۲۰۲۵ کال له مارچ څخه تر اپرېل میاشتې پورې: په دې کې ۱۲.۶ میلیونه کسان د خوړو د خوندیتوب د ارزونې په دربیم یا له هغه پورته پړاو کې وو، چې په دې کې ۱.۹۵ میلیونه کسان د دې ارزونې په څلورم پړاو کې شامل وو.
د ۲۰۲۵ کال له مې تر اکتوبر میاشت پورې: اټکل کېده چې ۹.۵ میلیونه خلک به د دغه پړاوونه په دربیم پړاو یا پورته کې وي.
[6] اوچا، د افغانسان د بشري وضعیت تازه حال، د ۲۰۲۶ کال له مارچ تر اپرېل پورې

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ ربعه کې، د افغانستان او پاکستان ترمنځ د کړکېچ له زیاتېدو وروسته، کاري چاپېریال د پام وړ خراب شو. د فېبرورۍ له وروستیو څخه هوایي بریدونو، توپچي بریدونو او سرحدي نښتو لږ تر لږه لس ولایتونه اغېزمن کړل، چې له امله یې ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته، خلک بې ځایه شول او ملکي زېربناوو ته زیان ورسېد. تر مارچ میاشتې پورې، د بشري مرستو راپورونو له مخې، شاوخوا ۲۸۹ ملکي وګړو ته مرګ ژوبله اوښتې وه او نږدې ۱۱۵ زره کسان بې ځایه شوي وو. همدا راز د سرحدونو تړل کېدو او ناامنۍ بازارونه، د بشري مرستو لاسرسی او د اکمالاتو لړۍ ګډوډه کړه. دا وضعیت د خوراکي توکو د بیو د لوړېدو، د روغتیا، تغذیې او زده کړو د خدماتو د ځنډېدو او په ځانګړي ډول د ښځو او ماشومانو لپاره د خوندیتوب د اندېښنو د زیاتېدو لامل شو.

د کال په دویمه ربعه کې د اقلیمي بدلونونو له امله رامنځته شویو پېښو او طبیعي ناورینونو بشري اړتیاوې لا پسې زیاتې کړې. له مارچ میاشتې راهیسې، شدیدو بارانونو، ناڅاپي سېلابونو او ځمکې ښوییدنو د افغانستان له ۳۴ ولایتونو څخه ۳۱ ولایتونه اغېزمن کړل، چې له امله یې څه باندې ۷۳ زره کسان زیانمن شول، خلکو ته مرګ ژوبله واوښته، زرګونه کورونه ویجاړ یا زیانمن شول او کرنیزې ځمکې، سړکونه، پلونه او د اوبو زېربناوې هم شدیدې زیانمنې شوې. ختیځ، سوېلي او لوېدیځ زونونه تر ټولو ډېر اغېزمن شول. د سېلابونو ترڅنګ، پرله پسې وچکالۍ هم د خلکو پر معیشت، کرنیز تولید او د اوبو پر شتون ناوړه اغېز وکړ او ۱۲ ولایتونه د شدیدې وچکالۍ له امله ډېر اغېزمن وپېژندل شول. دغو هممهالو اقلیمي ناورینونو په کلیوالو سیمو کې د خوړو ناامنۍ او پر بشري مرستو تکیه نوره هم زیاته کړه.

د راپور ورکولو په ټوله موده کې د عامې روغتیا اړوند اندېښنې هم جدي وې. د ساري ناروغیو، په ځانګړي ډول د شدید نس ناستي (اسهال) او شري، پرله پسې خپرېدو زیانمنې ټولنې، په ځانګړي ډول تر پنځو کلونو کم عمره ماشومان، اغېزمن کړل. د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) د معلوماتو له مخې، افغانستان د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ او جون ترمنځ د شدید نس ناستي له کبله د اوبو کمښت سره ۶۰,۱۵۵ پېښې او د شري ۱۴,۸۴۱ مشکوکې پېښې ثبت کړې او د کال په لومړۍ ربعه کې د شري د ناروغۍ خپرېدل په چټکۍ سره زیات شول[7]. په ورته وخت کې، د افغانستان روغتیايي سیستم د ناامنۍ او د بودجې د کمښت له امله له زیاتېدونکو ستونزو سره مخ و. د سرحدي نښتو او د سرچینو د کمښت له امله لږ تر لږه ۱۹ روغتیايي مرکزونه یا وتړل شول، یا یې فعالیت وځنډېد او یا هم په محدود ډول فعال پاتې شول، چې له امله یې نږدې ۷۸ زره کسان روغتیايي خدماتو ته له لاسرسي بې برخې شول. وضعیت د سېلابونو له امله روغتیايي زېربناوو ته د اوښتي زیان او د ښځینه روغتیايي کارکوونکو د دوامدار کمښت له کبله لا پسې خراب شو، چې دې کار د ښځو روغتیايي خدماتو ته لاسرسی محدود او د هېواد په ګڼو سیمو کې د اساسي روغتیايي خدماتو وړاندې کول کمزوري کړل.

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمايي کې د خلکو پراخ لېږد را لېږد د بشري وضعیت له مهمو اندېښنو څخه و. د راپور ورکولو په ټوله موده کې له ګاونډیو هېوادونو څخه د افغانانو راستنېدلو دوام درلود، چې له امله یې پر هغو خدماتو، د خلکو پر معیشت او کوربه ټولنو، چې له وړاندې هم تر سخت فشار لاندې وو، لا ډېر فشار وارد شو. د کډوالو په چارو کې د ملګرو ملتونو د عالي کمېشنرۍ (UNHCR) او د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) د معلوماتو له مخې، د ۲۰۲۶ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې له ایران او پاکستان څخه څه باندې ۹۰۰ زره افغانان هېواد ته بېرته راستانه شول. د ګاونډیو هېوادونو د نویو تګلارو او د هغو د پلي کولو له امله، د کال په دویمه ربعه کې د بېرته راستنېدونکو شمېر د پام وړ زیات شو[8]. بېرته راستنېدونکو ډېر شمېر او چټک بهیر د سرحدي هرکلي پر مرکزونو، بشري خدماتو او بنسټیزو زېربناوو، په ځانګړي ډول په ختیځو، لوېدیځو او ښاري سیمو کې، ډېر فشار واچاوه. د ۲۰۲۳ کال د سپټمبر له میاشتې راهیسې تر اوسه نږدې ۶.۰۴ میلیونه افغانان له پاکستان او ایران څخه هېواد ته بېرته راستانه شوي دي، چې دا د افغانستان د بشري وضعیت له مهمو پرمختګونو څخه ګڼل کېږي او د کوربه ټولنو د جذب وړتیا او بنسټیزو خدماتو ته یې لاسرسی لا زیات تر فشار لاندې راوستی دی.

د بېرته راستنېدونکو وضعیت د ګاونډیو هېوادونو د نویو تګلارو تر اغېز لاندې هم و. په پاکستان کې د غیرقانوني بهرنیانو د بېرته ستنولو پلان د پلي کېدو بهیر د راپور ورکولو په ټوله موده کې د افغانانو د بېرته راستنېدو یو مهم لامل و. د ۲۰۲۶ کال د جون پر ۲۸مه، د پاکستان حکومت اعلان وکړ چې د جولای له ۱۰مې نېټې څخه به هغه افغان وګړي ونیول شي چې د اعتبار وړ ویزه ونه لري. دې پرېکړې په پاکستان کې د افغانانو اندېښنې زیاتې کړې او دا تمه یې هم پیاوړې کړه چې د کال په دویمه نیمايي کې به د بېرته راستنېدونکو شمېر نور هم لوړ شي. که څه هم د محرم میاشتې[9] له امله د سرحدونو د لنډمهاله تړل کېدو له کبله د جون په میاشت کې د بېرته راستنېدو بهیر یو څه ورو شو، خو د بشري برخې همکارو مؤسسو د خوندیتوب د دوامدارو اندېښنو او د بې اسناده افغان کورنیو د بېرته راستنېدو د زیاتېدونکو غوښتنو راپور ورکړ.

ښځې او نجونې لا هم د بشري ناورین له ناوړه اغېزو تر ټولو ډېرې اغېزمنې شوې. پر زده کړو، کار او په ټولنیز ژوند کې د ګډون دوامدار محدودیتونه د هغوی زیانمنتیا نوره هم زیاته کړه، د عاید ترلاسه کولو فرصتونه یې محدود کړل او اساسي خدماتو ته یې لاسرسی کم کړ. د ملګرو ملتونو د بشري چارو د همغږۍ دفتر (OCHA) د معلوماتو له مخې، په ۲۰۲۶ کال کې څه باندې ۱۰.۷ میلیونه ښځې او نجونې بشري مرستو ته اړتیا لري[10]. د بشري برخې همکارو مؤسسو همدارنګه د دغو محدودیتونو د اوږدمهالو اغېزو په اړه اندېښنه څرګنده کړې، ځکه دا وضعیت د روغتیا او زده کړو پر سیستمونو منفي اغېز کوي او په راتلونکي کې د مسلکي ښځینه کارکوونکو شتون هم له ګواښ سره مخ کوي.

په ټوله کې، د ۲۰۲۶ کال لومړۍ نیمايي د خوړو د ناامنۍ د زیاتېدو، د شدیدې خوارځواکۍ، د جګړو له امله د رامنځته شویو ناورینونو، طبیعي ناورینونو، د ناروغیو د خپرېدو، د بودیجې د کمښت او د خلکو د بې ساري لېږد را لېږد له ګډو اغېزو سره مل وه. دغو یو له بل سره تړلو ناورینونو د بشري مرستو وړتیا تر سخت فشار لاندې راوسته او د ماشومانو، ښځو او نورو زیان منونکو خلکو زیانمنتیا یې لا زیاته کړه. له دې امله، د کال په دویمه نیمايي کې افغانستان ته دوامدارې بشري مرستې او کافي مالي ملاتړ د مخ پر زیاتېدونکو اړتیاوو د پوره کولو او د بشري وضعیت د لا خرابېدو د مخنیوي لپاره خورا مهم دي.

---

[7] د روغتیا نړیوال سازمان، د افغانستان د بېړني حالت راپور، ۶۵ شمېره

[8] اوچا، د افغانستان د وضعیت سیمهییز تازه معلومات، جون ۲۰۲۶

[9] د محرم میاشت یا د محرم لسمه د عاشورا د ورځې په نوم پېژندل کېږي، چې په اسلامي کالیزه کې یوه لویه مقدسه ورځ ده چې د حضرت موسی علیه السلام د ژغورنې او د امام حسین علیه السلام د شهادت نښه ده.

[10] اوچا، د افغانستان د بشري اړتیاوو او غبرګون پلان ۲۰۲۶

## د پروګرام د غبرګون لنډ تحلیل

### روغتیا

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمایي کې، یونیسف د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ۲,۳۹۳ ثابتو او ۱۶ ګرځنده روغتیايي مرکزونو له لارې د اساسي روغتیايي خدماتو ملاتړ ته دوام ورکړ. د ۲۸,۳۵۹ روغتیايي کارکوونکو، چې ۳۹ سلنه یې ښځې وې، په ملاتړ له ۱۸.۹ میلیونو څخه ډېرو خلکو اساسي روغتیايي خدماتو ته لاسرسی وموند، چې له دې ډلې ۲۸ سلنه ماشومان وو. یونیسف د سېلابونو، سرحدي کړکېچونو، د خلکو د تګ راتګ او د زلزلو ځپلو سیمو د بیارغونې د روانو هڅو په ځواب کې خپل ملاتړ هم پراخ کړ.

د ناروغیو څارنه او د ناروغیو د خپرېدو پر وړاندې چټک غبرګون د لومړیتوبونو له ډلې پاتې شول. د راپور ورکولو په موده کې، په ټول هېواد کې د ناروغیو د خپرېدو ۹۴۷ پېښې ثبت او ورته رسېدنه وشوه. د څه باندې ۸۲۷ زره وبایي او ساري ناروغیو پېښې ثبت شوې، چې پکې حاد تنفسي انتانات، شدید نس ناستی، کووید-۱۹، ملاریا، شری، د کریمیا کانګو وینې بهېدونکې تبه او ډېنګي تبه شاملې وې. د چمتووالي او غبرګون د وړتیا د پیاوړتیا لپاره، یونیسف بېړني روغتیايي توکي له مخکې زېرمه کړل او د ټولنیزو روغتیايي کارکوونکو په ګډون یې ۵,۷۹۸ روغتیايي کارکوونکو ته د شدید نس ناستي د پېښو د مدیریت او د ناروغیو د خپرېدو پر وړاندې د غبرګون روزنه ورکړه. د یونیسف تر ملاتړ لاندې روغتیايي مرکزونو د ناروغیو د خپرېدو او روغتیايي بېړنیو حالاتو پر مهال د شدید نس ناستي د نږدې ۶۵۳ زره ناروغانو درملنه وکړه او د دغې ناروغۍ د مخنیوي او عامه پوهاوي کمپاینونو له لارې څه باندې ۱.۰۵ میلیونه خلکو ته رسېدنه وشوه. پردې سربېره، د U-Report له لارې د لاسونو د مینځلو او د خولې له لارې د بدن د اوبو پوره کولو محلول (ORS) د کارولو په اړه څه باندې ۱۰ میلیونه روغتیايي پیغامونه خپاره شول.

یونیسف د تورخم، سپین بولدک، میلک او اسلام کلا په مهمو سرحدي بندرونو کې بېرته راستنېدونکو افغانانو ته روغتیايي خدماتو وړاندې کړل. همدارنګه، د ۲۰۲۵ کال د اګست میاشتې د کونړ زلزلې له امله اغېزمنو سیمو کې لنډمهاله روغتیايي کمپونو او د یونیسف تر ملاتړ لاندې روغتیايي مرکزونو ځپلو خدماتو ته دوام ورکړ. یوازې په تورخم کې څه باندې ۴,۱۰۰ کسانو ته د خارج بستر روغتیايي مشورو ترڅنګ، ښځو او کوچنیو ماشومانو ته د واکسین او لومړنیو روغتیايي خدماتو زمینه برابره شوه.

د بېړنیو حالاتو لپاره د چمتووالي او د جدي ناروغانو د درملنې د وړتیا د پیاوړتیا په موخه، په بلخ، غزني، کندهار، خوست او ننګرهار ولایتونو کې پنځه کانټینري اکسیجن فابریکې نصب او روغتیايي مرکزونو ته وسپارل شوې. سربېره پر دې، په لوړ خطر لرونکو سیمو کې ټاکل شویو روغتیايي مرکزونو ته ۱۲ د ایکس رې ماشینونه او د ټیپانو د درملنې ځانګړي تجهیزات ورکړل شول. یونیسف همدارنګه د افغانستان او پاکستان د پولې په اوږدو او د کابل په راجع کوونکو روغتونونو کې، د بشري بېړنیو حالاتو له امله اغېزمنو ولایتونو کې د بېړنیو ټپیانو د درملنې له خدماتو ملاتړ وکړ.

د معمول واکسیناسیون د پروګرام له لارې، تر پنځو کلونو کم عمره ۱.۰۷ میلیونه ماشومان د شري پر وړاندې واکسین شول، نږدې ۹۹۰ زره ماشومانو د پنځه ګوني واکسین دریېیم ډوز ترلاسه کړ، او څه باندې ۸۳ زره د لوړ خطر لرونکې کسان د کووید-۱۹ پر وړاندې واکسین شول. د واکسینونو د خوندي ساتنې د وړتیا د لوړولو لپاره، په ټول هېواد کې په روغتیايي مرکزونو کې ۱۱۶ لمریز یخچالونه نصب شول.

د لوجستیکي معلوماتو د برېښنايي مدیریت سیستم (eLMIS)، چې د Open mSupply پر بنسټ جوړ شوی، د واکسیناسیون د پراخ شوي پروګرام د اکمالاتي ځنځیر د ډیجیټلي کولو ملاتړ ته دوام ورکړ او اوس د هېواد په ملي، سیمه ییزو او ولایتي واکسین زېرمتونونو کې فعال دی. ټولټال ۱۱۶ د سړې خونې کارکوونکو ته د eLMIS په برخه کې روزنه ورکړل شوه او د واکسیناسیون د پراخ شوي پروګرام نورو کارکوونکو ته د واکسینونو د مدیریت او د واکسیناسیون د پاتې شونو د خوندي مدیریت په اړه روزنه ورکړل شوه. همدارنګه، په بېلابېلو ولایتونو کې د واکسیناسیون د پراخ شوي پروګرام اړوند زېربناوو، لکه ګدامونو، اداري تاسیساتو او د طبي کڅافاتو د درملنې د ځایونو د جوړولو او بیارغونې چارې دوام وموند.

یونیسف د ظرفیت لوړونې، د تجهیزاتو برابرولو او د روغتیايي مرکزونو د ملاتړ له لارې د میندو او نویو زېږېدلو ماشومانو روغتیايي خدماتو هم پیاوړې کړل. ټولټال ۱,۲۳۵ روغتیايي کارکوونکو ته د نویو زېږېدلو ماشومانو د پرمختللې پاملرنې، د اکسیجن درملنې، د امیندوارۍ او د نویو زېږېدلو ماشومانو د پیچلتیاوو د مدیریت، او د میندو او نویو زېږېدلو ماشومانو د مړینې د څارنې او غبرګون په برخو کې روزنه ورکړل شوه. د میندو، نویو زېږېدلو او ماشومانو د روغتیا د مهارتونو اته روزنیز لابراتوارونه جوړ شول، د پنځو ولایتي روغتونونو لپاره د دوامدار مثبت هوايي فشار ماشینونه نصب شول، او په پکتیا ولایت کې د کانګرو مور پاملرنې (KMC) یو ځانګړی مرکز جوړ شو. پردې سربېره، په ۱۰ ولایتونو کې ۴۳ روغتیايي مرکزونه د هغو اغېزناکو خدماتو د پلي کولو لپاره ملاتړ شول چې موخه یې د میندو او نویو زېږېدلو ماشومانو د مړینې کمول دي. همدارنګه، څه باندې یو میلیون د مور او ماشوم د روغتیا لارښود کتابونه، د نویو زېږېدلو ماشومانو د پاملرنې توکي او د ټولنې د روغتیايي کارکوونکو کڅوړې ووېشل شوې، چې په ټول هېواد کې یې د روغتیايي خدماتو وړاندې کول لا پیاوړي کړل.

یونیسف د شدید نس ناستي په اړه د هېواد په لسو لوړ خطر لرونکو ولایتونو کې د U-Report له لارې یوه سروې ترسره کړه، چې د ناروغۍ د مخنیوي او غبرګون په برخه کې یې مهمې نیمګړتیاوې په ګوته کړې. په دغو نیمګړتیاوو کې د خولې له لارې د بدن د اوبو پوره کولو محلول (ORS) په اړه ټیټه پوهاوي کچه (۴۳ سلنه)، په کورنیو کې د اوبو د تصفیې محدودې کړنلارې، د لاسونو د مینځلو ناسم عادتونه، او د صابون، پاکو اوبو او پر وخت روغتیايي خدماتو ته د لاسرسي ستونزې شاملې وې. د دغې سروې موندنې د غبرګون د فعالیتونو د لومړیتوب ټاکلو او ښه کولو لپاره وکارول شوې. د همدې پر بنسټ، د ټولنې د پوهاوي کمپاینونه پراخ شول او ۱.۰۵ میلیونه خلکو ته ورسېدل، ۶۲,۸۹۳ روغتیايي او د ټولنې روغتیايي کارکوونکو ته روزنه او لارښوونه ورکړل

شوه، د شدید نس ناستي ۶۵۳ زره ناروغان درملنه شول، ۵.۶۳ میلیونه د اوبو د تصفیې ټابلیټونه، ۱۳,۷۸۵ د صابون ټوټې او ۱,۴۳۳ د حفظ الصحې کڅوړې ووېشل شوې او په اغېزمنو سیمو کې د ټولنې ۷۰ د اوبو سرچینې کلورین شوې. دغو هدفمندو فعالیتونو د ټولنې د نظرونو له مخې د چلند او چاپېریال اړوند مهم خطرونه راکم کړل او په لوړ خطر لرونکو سیمو کې یې د شدید نس ناستي د مخنیوي، پر وخت درملنې ته د خلکو د مراجعه کولو او د ناروغانو د سم مدیریت په پیاوړتیا کې مهم رول ولوباوه.

## تغذیه

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمايي کې، یونیسف د افغانستان په کچه د ۳,۵۰۰ روغتیایي مرکزونو او ۱۵,۰۰۰ ټولنیزو روغتیایي مرکزونو له لارې د خوارځواکۍ د مخنیوي او درملنې باکیفیته خدمات وړاندې کړل.

د راپور ورکولو په موده کې، یونیسف او همکارو مؤسسو یې ۶.۸ میلیونه ماشومان د خوارځواکۍ په موخه معاینه کړل. له دې ډلې، ۳۶۳,۸۱۰ ماشومان چې پر شدیدې خوارځواکۍ او یا د منځنۍ کچې پر لوړ خطر لرونکې خوارځواکۍ اخته وو، د درملنې لپاره شامل شول. له دغو څخه ۲۵۸,۳۲۳ ماشومان پر شدیدې خوارځواکۍ اخته وو چې د ژوند ژغورنې درملنه یې ترلاسه کړه. یونیسف د خوارځواکۍ د مخنیوي لپاره د خدماتو یوه هر اړخیزه بسته هم وړاندې کړه. ټولټال ۱.۲ میلیونه پالونکو ته د میندو، ماشومانو او کوچنیو ماشومانو د تغذیې په اړه مشورې ورکړل شوې او ۶۳۳,۴۲۳ امیندوارو ښځو ته د ګڼو کوچنیو غذايي موادو بشپړوونکي ورکړل شول. پردې سربېره، تر پنځو کلونو کم عمره ۲.۹ میلیونه ماشومانو د کوچنیو غذايي موادو بشپړوونکي ترلاسه کړل او ۲.۳ میلیونه تنکیو نجونو د اوسپنې او فولیک اسید له اونیزو بشپړوونکو برخمنې شوې. همدا راز، د واکسیناسیون د ملي ورځو له لارې ۱۰.۳ میلیونه هغه ماشومان چې عمرونه یې له ۶ تر ۵۹ میاشتو وو، د ویټامین A بشپړووکې ترلاسه کړل.

یونیسف د سرحدي لارو، لنډمهالي استوګنې مرکزونو او د بېرته مېشتېدو په سیمو کې بېرته راستنېدونکو کورنیو ته د تغذیې بېړنې خدمات هم وړاندې کړل. د راپور ورکولو په موده کې ۵۵ زره بېرته راستنېدونکي ماشومان د خوارځواکۍ له پلوه معاینه شول، چې له دې ډلې له ۲ زرو څخه ډېر ماشومان د درملنې لپاره شامل شول. بېرته راستنېدونکو ماشومانو ته د ویټامین A او نورو غذايي بشپړوونکو خدمات هم برابر شول او څه باندې ۲۱ زرو پالونکو د تغذیې له مشورو او اړوندو خدماتو څخه ګټه واخیسته.

د ختیځ او شمالي افغانستان په هغو سیمو کې چې زلزلو اغېزمنې کړې وې، د تغذیې خدمات نور هم پراخ شول. په دغو سیمو کې نږدې ۳۹ زره ماشومان د خوارځواکۍ د تشخیص په موخه معاینه شول، چې له دې ډلې ۷۸۷ ماشومان د خوارځواکۍ لپاره تر درملنې لاندې ونیول شول او څه باندې ۱۹ زرو پالونکو ته د بېړنیو حالاتو پر مهال د ماشومانو او کوچنیو ماشومانو د تغذیې په اړه مشورې ورکړل شوې. پردې سربېره، ۳۹۰ هغه شیدې خوړونکي ماشومان چې د زلزلې له امله یې خپلې میندې بایللې وې، د استعمال لپاره چمتو د ماشومانو شیدې ترلاسه کړې.

یونیسف د ماشومانو د تغذیې او ودې د ستراتیژۍ په چوکاټ کې د تغذیې له خدماتو سره د ماشومتوب دورې د ودې پروګرام هم لا پیاوړی کړ. د راپور ورکولو په موده کې د ماشومتوب دورې وده او د ټولنیز او چلند بدلون فعالیتونه په ۱۳۱ خدمت وړاندې کوونکو مرکزونو کې مدغم شول او ۲۳۳ مخکښو کارکوونکو ته د یادې دورې د هر اړخیزو خدماتو په اړه روزنه ورکړل شوه. په کابل کې د ماشومانو د تغذیې او ودې د ۵۰ مشورتي مرکزونو له لارې د تغذیې، پالنې او د ماشومانو د لومړنۍ ودې هر اړخیز خدمات وړاندې شول. پردې سربېره، د کندهار، هلمند، ارزګان او زابل په څلورو سویلي ولایتونو کې د ماشومانو د تغذیې او ودې ۳۵ نوي مرکزونه جوړ شول، چې له امله یې کوچني ماشومان او د هغوی پالونکي د تغذیې، پالنې او لومړنۍ ودې هر اړخیزو خدماتو ته لا ښه لاسرسی وموند.

د تغذیې د څارنې د پیاوړتیا لپاره، په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ټولنیزې تغذیې د څارنې بهیر د ۴۶۵ څارنیزو مرکزونو له لارې دوام درلود. دغه سیستم د خوارځواکۍ د وضعیت په اړه پر وخت معلومات برابر کړل، څو پرېکړې او غبرګونونه په چټک او اغېزناک ډول ترسره شي.

## زده کړې

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمايي کې، یونیسف په داسې ستونزمن بشري وضعیت کې د پوهنې له پروګرامونو ملاتړ وکړ چې د بېرته راستنېدونکو د پراخو خوځښتونو، د پولې هاخوا نښتو، سېلابونو او زده کړو ته د لاسرسي د دوامداره خنډونو له امله رامنځته شوی و. اټکل کېده چې ۷.۱ میلیونه ماشومان د زده کړو مرستو ته اړتیا لري، چې په هغوی کې نږدې ۹۰۰ زره بېرته راستنېدونکي ماشومان هم شامل وو. دغو ماشومانو له ګڼو زده کوونکو ډکو ټولګیو، د درسي موادو له کمښت او په ښوونځیو کې د شاملېدو له ستونزو سره مخ وو. یونیسف په بېړنیو حالاتو کې د زده کړو (EiE) پروګرامونو ته لومړیتوب ورکړ او د لنډمهالو زده کړو مرکزونو (TLS) او د محلي زده کړو له لارې یې خدمات وړاندې کړل، چې شاوخوا ۶۰ سلنه ګټه اخیستونکي نجونې وې.

د بېرته راستنېدونکو ماشومانو د زده کړو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره، یونیسف ۱,۶۰۰ لنډمهالي زده کړو مرکزونه جوړ کړل، چې له لارې یې ۳۰,۸۸۸ ماشومانو ته زده کړې برابرې شوې، چې ۵۱ سلنه یې نجونې وې. د زده کوونکو د کچې له ارزونې وروسته، ۲۵,۳۱۹ ماشومان چې ۵۰ سلنه یې نجونې وې، په دولتي ښوونځیو کې شامل شول. یونیسف همدارنګه د محلي زده کړو (CBE) پروګرامونو له لارې د ښوونځي څخه بهر ۲۱,۷۷۱ ماشومانو ملاتړ وکړ، چې ۷۴ سلنه یې نجونې وې. دغو پروګرامونو د زده کړې فرصتونه، د ښوونکو ملاتړ، د ټولنې ګډون او اړین درسي مواد برابر کړل. پردې سربېره، د محلي ښوونځیو (CBS) پروګرام ازمایښتي پړاو هم پیل شو، څو ښوونځي ته د نه تلونکو ماشومانو لپاره د زده کړو زمینه پراخه کړي. د دغه پروګرام له لارې ۷,۴۲۲ ماشومانو زده کړو ته لاسرسی وموند، چې ۶۰ سلنه یې نجونې وې.

یونیسف د نجونو د ښوونکو د روزنې د لاسرسي (GATE) نوښت له لارې د ښوونکو د روزنې د ۲۸۵ ښځینه زده کوونکو ملاتړ وکړ، ترڅو د مسلکي ښځینه ښوونکو شمېر زیات او د نجونو لپاره زده کړو ته لاسرسی دوامداره شي.

د راپور ورکولو په موده کې د بېلابېلو بشري بيړنيو حالاتو له امله د زده کړو خدمات څو ځله اغېزمن شول. د پولې هاخوا نښتو په څو ولايتونو کې د زده کړو بهير ګډوډ کړ او د اپريل مياشتې سېلابونو ښوونځيو او لنډمهالو زده کړو مرکزونو ته زيان ورساوه. په سويلي سيمه کې ۵۵ ښوونځي زيانمن شول چې له امله يې د څه باندې ۲۴ زرو ماشومانو زده کړې وځنډېدې. همدارنګه، په ننګرهار او لغمان ولايتونو کې هم يو شمېر ښوونيزو مرکزونو ته زيان واوښت. د پوهنې د برخې همکارو مؤسسو د زده کړو د ځايونو د بيارغونې، د تدريس او زده کړې د موادو، رواني او ټولنيز ملاتړ، او د نورو لنډمهالو زده کړو مرکزونو د جوړولو بيړنۍ اړتيا په ګوته کړه.

يونيسف د پوهنې له مسؤلو ادارو، پلي کوونکو همکارو مؤسسو او ټولنو سره خپلې نږدې همکارۍ ته دوام ورکړ، څو ښوونځيو ته د ماشومانو تګ، د هغوی دوامداره ګډون او د زده کړو بهير، په ځانګړې توګه د نجونو، معلولو ماشومانو او بېرته راستنېدونکو ماشومانو لپاره، خونديو وساتي. څو د نفوسو پرله پسې خوځښتونو د پوهنې پر هغو خدماتو چې له مخکې هم تر فشار لاندې وو، لا زيات فشار راوست. د دې وضعيت له امله ټولګي نور هم ګڼه ګوڼه شول، د مسلکي ښوونکو کمښت، د ښوونيزو ودانيو نيمګړتيا او د اغېزمنو سيمو د سرچينو اړتياوې لا زياتې شوې.

## د ماشوم خونديتوب، په بېړنيو شرايطو کې د جنسيتي تاوتريخوالي او له جنسي ګټې اخيستنې او ناوړه استفادې څخه مخنيوی

د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ او جون ترمنځ، يونيسف او پلي کوونکو همکارو مؤسسو په ټول افغانستان کې د ماشومانو د خونديتوب خدمات نور هم پياوړي کړل. د ماشومانو د خونديتوب، د جنسيتي تاوتريخوالي (GBV) د مخنيوي، د خطرونو د کمولو او ځواب ويلو د هر اړخيزو فعاليتونو له لارې يې ۱.۱۶ ميليونه کسانو، چې ماشومان، پالونکي او د ټولنې غړي پکې شامل وو، خدمات وړاندې کړل.

د رواني روغتيا او عاطفي هوساينې د پياوړتيا لپاره، نږدې ۶۹ زره ماشومان او پالونکي د رواني روغتيا او رواني ټولنيز ملاتړ (MHPSS) له منظمو خدماتو څخه برخمن شول. پردې سربېره، څه باندې ۲۲,۶۰۰ زيانمن ماشومان، چې بې سرپرسته او له خپلو کورنيو بېل شوي ماشومان او همدارنګه هغه ماشومان چې د تاوتريخوالي، ناوړه ګټې اخيستنې او خوروونې قربانيان وو يا له دې خطر سره مخ وو، د قضيې د مديريت او ځانګړو خونديتابه خدماتو تر پوښښ لاندې راغلل. په دغو خدماتو کې د کورنۍ لټون او بيا يوځای کول، انفرادي مشورې او ځانګړو خدماتو ته راجع کول شامل وو.

يونيسف د جنسيتي تاوتريخوالي (GBV) د مخنيوي، د خطرونو د کمولو او ځواب ويلو خدماتو پياوړتيا ته هم دوام ورکړ. د راپور ورکولو په موده کې څه باندې ۱۶۶ زره کسان له دغو خدماتو برخمن شول. دا هڅې د معلوماتو د لاسرسي په زياتولو، د ټولنيز خونديتوب د ميکانيزمونو په پياوړتيا او د هغو زيانمنو ښځو، نجونو او ماشومانو په ملاتړ متمرکزې وې چې د بشري ناورينونو له امله اغېزمن شوي وو.

د ماينونو او ناچاودو مهماتو د دوامدار ګواښ له امله، يونيسف د چاودېدونکو توکو د خطرونو د پوهاوي فعاليتونو ملاتړ هم وکړ، چې له لارې يې نږدې ۳۶۹ زره ماشومان او پالونکي تر پوښښ لاندې راغلل. دغو فعاليتونو خونديو چلندونه ترويج کړل او د چاودېدونکو توکو له خطر سره يې د خلکو د مخامخ کېدو کچه راکمه کړه. همهماله، د ټولنې د پوهاوي او د ټولنيز او چلند بدلون فعاليتونو له لارې څه باندې ۵۳۰ زره کسانو ته د ماشومانو د خونديتوب، د تاوتريخوالي د مخنيوي، رواني هوساينې او د ماشومانو د مثبتې پالنې په اړه پيغامونه ورسول شول.

يونيسف د جنسي استثمار او ناوړه ګټې اخيستنې (SEA)، جنسي ځوروونې (SH) او د خونديتوب اصولو د مخنيوي، راپور ورکولو او ځواب ويلو د پياوړتيا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. دا کار د ظرفيت لوړولو، په پروګرامونو او فعاليتونو کې د دغو موضوعاتو د ادغام، د راپور ورکولو د لارو چارو د پياوړتيا او لاسرسي د ښه کولو، او د قضيو د سم مديريت له لارې ترسره شو. د ۲۰۲۶ کال د جنورۍ او جون ترمنځ ټولټال ۴۷۶ مخکښو کارکوونکو، د همکارو مؤسسو کارکوونکو او د يونيسف کارکوونکو، چې ۲۵۰ ښځې او ۲۲۶ نارينه پکې شامل وو، د PSEA/SH او خونديتوب په برخه کې روزنه ترلاسه کړه. په دې ډله کې د ماشومانو د خونديتوب مخکښ کارکوونکي، د ټولنې د اړيکو او نظر اخيستنې ميکانيزم کارکوونکي، او د ټولنې د بسيج کارکوونکي هم شامل وو چې له زيانمنو ماشومانو او ټولنو سره نېغ په نېغه اړيکه لري. يونيسف همدارنګه له سلاکارانو سره د وقار، برابرۍ او شموليت نوښت پيل کړ، ترڅو د يونيسف د کارکوونکو لپاره هر اړخيزه ارزونه او روزنيز پروګرام چمتو کړي. د ماشومانو د خونديتوب د پروګرام له لارې نږدې ۱۱۹ زره د ټولنې غړو ته د خوندي راپور ورکولو او د PSEA او خونديتوب د اصولو په اړه د پوهاوي فعاليتونه ترسره شول. همدارنګه، نږدې ۱۱۴ زره کسانو د يونيسف د نظر اخيستنې ميکانيزم سره اړيکه ونيوله، چې دا ښيي هغوی د خپلو اندېښنو د خوندي راپور ورکولو لپاره خوندي او د لاسرسي وړ لارې لري.

## اوبه، حفظ الصحه او پاکوالی (WASH)

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نيمايي کې، يونيسف په ټول افغانستان کې هغو ټولنو ته چې د طبيعي پېښو، د ناروغيو د خپرېدو او د نفوسو د پراخو خوځښتونو له امله اغېزمنې شوې وې، د ژوند ژغورنې اوبو، حفظ الصحې او نظافت (WASH) خدمات وړاندې کړل. دغو فعاليتونو په بېړنيو او محرومو سيمو کې د پاکو څښاک اوبو، اساسي حفظ الصحې خدماتو، سالم چاپېريال او د نظافت د مناسبو کړنو د پراختيا په برخه کې مهمه ونډه لرله.

د جنورۍ او جون ترمنځ، ۴۹۳,۴۶۰ کسانو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی وموند او ۳۳۴,۳۸۵ کسانو د حفظ الصحې له اساسي خدماتو څخه ګټه واخيسته. دا خدمات د حفظ الصحې د تاسيساتو د جوړولو او بيارغونې او د ټولنې په مشرۍ د حفظ الصحې د نوښتونو له لارې برابر شول. پردې سربېره، ۸۳۰,۲۹۶ کسانو ته د WASH اړين توکي، لکه د حفظ الصحې بستې، د اوبو بستې او د اوبو د تصفيې مواد ووېشل شول او ۸۱۰,۰۶۱ کسانو د نظافت د ترويج او د چلند د بدلون له فعاليتونو څخه ګټه واخيسته.

يونيسف د شديد نس ناستې د خپرېدو پر وړاندې د چمتووالي او غبرګون ملاتړ وکړ. په دغو فعاليتونو کې د حفظ الصحې ترويج، د اوبو د کيفيت څارنه، کلورين ورکول، د ټولنې ښکېلتيا، د چاپېريال حفظ الصحې ښه کول او د WASH بېړنيو توکو وېش شامل وو. دا فعاليتونه د واکمنې ادارې د اړوندو ادارو او همکارو مؤسسو په همکارۍ ترسره شول، ترڅو په اغېزمنو او له خطر سره مخ ټولنو کې د ناروغيو د خپرېدو خطر راکم شي. د همغږۍ هڅو د شديد نس ناستې پر وړاندې د چمتووالي او غبرګون وړتياوې لا پياوړې کړې، خو د بوديجې کمښت په ځينو اغېزمنو سيمو کې د همکارو مؤسسو د ملاتړ د پراخېدو مخه ونيوله.

د ایران او پاکستان څخه د بېرته راستنېدونکو پراخو بهیرونو د سرحدي لارو او د بېرته راستنېدو په سیمو کې پر بنسټیزو خدماتو فشار ته دوام ورکړ. یوازې په جون میاشت کې، له مهمو سرحدي لارو څخه څه باندې ۱۰۶ زره کسان هېواد ته بېرته راستانه شول، چې له دې ډلې ۷۲,۹۰۸ کسان د تورخم، ۲۶,۱۳۷ کسان د میلک، ۵,۶۸۵ کسان د سپین بولدک او ۱,۵۹۱ کسان د بهرامچې له لارې راغلل. د بېرته راستنېدونکو د شمېر زیاتوالي د پاکو اوبو، حفظ الصحې او نظافت خدماتو ته اړتیا هم زیاته کړه. یونیسف په مهمو سرحدي نقطو کې د WASH اساسي خدماتو، لکه د پاکو اوبو برابرول، د حفظ الصحې اسانتیاوې، د نظافت پوهاوی او د جامدو کثافاتو مدیریت، دوامداره وسائل او د بېرته راستنېدونکو او کوربه ټولنو بېړنۍ اړتیاوې یې پوره کړې.

په ادارو کې د WASH خدماتو د ښه والي لپاره، یونیسف په ۳۲ روغتیايي مرکزونو کې د اوبو او حفظ الصحې د زېربناوو د جوړولو او بیارغونې ملاتړ وکړ، چې له امله یې ۹۴,۵۴۰ کسانو، د ناروغانو، روغتیايي کارکوونکو او شاوخوا ټولنو په ګډون، ګټه واخیسته. همدارنګه، د لغمان، کونړ، پروان، غور، تخار، بغلان او ننګرهار ولایتونو په ۱۵ ښوونځیو کې د اوبو رسولو ښه سیستمونه، د لاس مینځلو اسانتیاوې او د حفظ الصحې زیربناوې جوړې شوې، چې له امله یې ۱۴,۷۳۳ زده کوونکو او ښوونکو ته ښه خدمات برابر شول.

سره له دې چې د WASH پروګرام مهمې لاسته راوړنې لرلې، خو لا هم له ګڼو ننګونو سره مخ و. د بودجې کمښت، د تخنیکي ظرفیت محدودیت، د ځمکې لاندې اوبو د معلوماتو نشتوالی، د اقلیم اړوند ناورینونه او د بشري بېړنیو حالاتو او د نفوسو د هممهالو خوځښتونو له امله د اړتیاوو زیاتوالی، د دې پروګرام مهمې ستونزې وې.

## ټولنیزه ښکېلتیا او مشارکت، ځوانان او تنکي ځوانان او اغېزمنو/زیانمنو کسانو ته حساب ورکول

د ۲۰۲۶ کال د لومړۍ نیمايي په ترځ کې، یونیسف څه باندې ۹.۲ میلیونو خلکو ته، چې شاوخوا ۴۹ سلنه یې ښځې او نجونې وې، د تغذیې، یوازې د مور شیدو ورکولو، واکسیناسیون، د ناروغیو د مخنیوي، رواني هوساینې او د خوندي حفظ الصحې په اړه ژوند ژغورونکي معلومات ورسول.

د ټولنې د جوړښتونو او د پوهاوي د فعالیتونو له لارې، ۲.۳ میلیونو نورو خلکو ته د واکسیناسیون، د ناروغیو د مخنیوي او د حفظ الصحې د دودولو په اړه معلومات ورسول شول او نږدې یو میلیون کسانو ته د معلوماتي، ښوونیزو او ارتباطي (IEC) موادو له لارې د عامه پوهاوي پیغامونه وړاندې شول.

یونیسف د ټولنې د نظریاتو او شکایتونو د مدیریت د سیستم له لارې له اغېزمنو خلکو سره د حساب ورکونې بهیر پیاوړی کړ. په دې موده کې د ټولنې ۱۱۳,۶۶۱ نظریات او شکایتونه ثبت شول، چې ۵۳ سلنه یې د ښځو له خوا وړاندې شوي وو. د خلکو نظریاتو وښودله چې لا هم اساسي خدماتو، په ځانګړي ډول روغتیايي خدماتو، د څښاک پاکو اوبو، زده کړو، د ماشومانو د خوندیتوب خدماتو او ټولنیز ملاتړ ته د لاسرسي په برخه کې جدي ستونزې شته. اقتصادي ستونزې، د ماشومانو او امېندوارو ښځو لپاره د تغذیې د توکو کمښت او نه پوره شوې بشري اړتیاوې د ترلاسه شویو نظریاتو له ۶۰ سلنې څخه ډېرې جوړولې.

د یونیسف د اړیکو مرکز (کال سنټر) ۱۱,۱۲۰ ټېلیفوني اړیکې ترلاسه کړې، چې خلکو ته یې د معلوماتو ترلاسه کولو، اندېښنو شریکولو او اړوندو خدماتو ته د راجع کېدو لپاره یوه بله اسانه لار برابره کړه.

د U-Report افغانستان له لارې، یونیسف شاوخوا ۵۰ میلیونه پیغامونه واستول او ترلاسه یې کړل، او تنکي ځوانان او ځوانان یې د ځانګړو کمپاینونو او متقابلو نظرپوښتنو له لارې په فعاله توګه ښکېل کړل. په دې موده کې څه باندې ۲.۱۷ میلیونو د U-Report کاروونکو، چې ۳۸ سلنه یې تنکۍ نجونې او ښځې وې، لږ تر لږه په یوه کمپاین کې ګډون وکړ. مهمو نوښتونو کې د ماشومتوب دورې د ودې (ECD) په اړه د ۱۰ میلیونو پیغامونو او د شدید نس ناستې د مخنیوي په اړه د ۵ میلیونو پیغامونو خپرول شامل وو، چې د ماشومانو د سمې پالنې، د خولې له لارې د بدن د اوبو پوره کولو محلول (ORS) کارولو او د خوندي حفظ الصحې د کړنو دودولو ته یې وده ورکړه.

## جنسیت او د تنکیو ځوانانو پرمختګ او ګډون

د ۲۰۲۶ کال د لومړۍ نیمايي په ترځ کې، یونیسف د خپلو پلي کوونکو همکارو مؤسسو او د ښځو په مشرۍ او د ښځو په ملاتړ د فعالیت کوونکو بنسټونو په همکارۍ، په افغانستان کې د ښځو، تنکیو نجونو، نارینه وو او هلکانو لپاره د جنسیت مطابق خدماتو د لاسرسي د پیاوړتیا هڅو ته دوام ورکړ. ټولټال ۱۰۲,۸۳۴ ښځو او تنکیو نجونو د ښځو او نجونو د خوندي ځایونو (WGSS) له لارې له هر اړخیزو خدماتو څخه ګټه واخیسته. په دغو خدماتو کې رواني او ټولنیز ملاتړ، د ډیجیټلي زده کړو فرصتونه، د ژوند مهارتونو روزنه، د پیاوړتیا نور پروګرامونه او همدارنګه روغتیا، تغذیې، واکسیناسیون او د جنسیتي تاوتریخوالي د ځواب ویونکو خدماتو ته راجع کول شامل وو.

د ښځو او نجونو خوندي ځایونه (WGSS) د ټولنیزو ملاتړیزو خدماتو د وړاندې کولو مهم مرکزونه پاتې شول. د دغو مرکزونو له لارې ۵۵,۱۸۷ ښځو او تنکیو نجونو ته خوندي او ملاتړي چاپېریال او بنسټیزو خدماتو ته ښه لاسرسی برابر شو. پردې سربېره، ۲۵,۵۳۱ تنکیو نجونو د ژوند مهارتونو او زده کړو په هغو پروګرامونو کې ګډون وکړ چې د لېږد وړ مهارتونو، ډیجیټلي سواد، مسلکي مهارتونو او شخصي ودې ته ځانګړي شوي وو، چې د هغوی د مقاومت وړتیا او په خپلو ټولنو کې یې د اغېزناک ګډون کچه پیاوړې کړه.

یونیسف د مثبتو ټولنیزو ارزښتونو د دودولو لپاره د نارینه وو او هلکانو د شبکو له لارې د هغوی د همکارانو په توګه د ښکېلتیا هڅو ته هم دوام ورکړ. د راپور ورکولو په موده کې، ۲۰,۶۵۵ نارینه وو او هلکانو په هغو فعالیتونو کې ګډون وکړ چې د مثبتو ټولنیزو ارزښتونو، د جنسیتي برابرۍ او د زیان رسوونکو دودونو د مخنیوي لپاره ترسره کېدل. دغو نوښتونو د ښځو او نجونو لپاره د خوندي او ملاتړي چاپېریال په رامنځته کولو کې مرسته وکړه او په کورنیو او ټولنو کې یې د عادلانه چلند او مثبتو کړنو دودولو ته وده ورکړه.

د خدماتو د کیفیت او تړلشموله والي د پیاوړتیا لپاره، یونیسف د جنسیت مطابق روغتیایي خدماتو، د تنکیو ځوانانو لپاره د مناسب روغتیا او تغذيې خدماتو، د جنسیتي/جنډر تاوتریخوالي د مخنیوي او ځواب ویلو، او له جنسي استثمار، ناوړه ګټې اخیستنې او جنسي ځورونې (PSEA/SH) څخه د خوندیتوب په اړه د لارښودونو او روزنیزو موادو د چمتو کولو ملاتړ وکړ. د دې هڅو په پایله کې، ۱,۱۱۷ روغتیایي کارکوونکي او د لومړۍ کرښې کارکوونکي وروزل شول، څو ښځو، نجونو او نورو زیانمنو وګړو ته لا ډېر تړلشموله، قرباني محوره او د جنسیت مطابق خدمات وړاندې کړي.

## تړلنیز خوندیتوب او د بشري مرستو د نغدو پیسو لېږد

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمايي کې، یونیسف په بریالیتوب سره په بادغیس، کونړ، سمنګان او زابل ولایتونو کې د مور او ماشوم د نغدي مرستو پروګرام (MCCT) بشپړ کړ. دا پروګرام امېندوارو او شیدې ورکوونکو میندو او هغو کورنیو ته چې تر دوو کلونو کم عمره ماشومان یې لرل، ځانګړی شوی و. د پروګرام له لارې ۶۵,۱۶۲ کورنیو ته د درې میاشتنیو نغدي مرستو شپږ پراوونه ورکړل شول، چې له امله یې ۵۷۶,۲۷۹ کسانو ګټه واخیسته. دغه پروګرام د ښځو لپاره د مناسب او د خطرونو په پام کې نیول شوي میکانیزم له لارې پلې شو، چې زیان منونکو کورنیو سره یې مرسته وکړه څو د ماشوم د ژوند لومړیو ۱,۰۰۰ مهمو ورځو په موده کې خپلې اساسي اړتیاوې پوره کړي. د دغه پروګرام له ګټه اخیستونکو څخه ۲,۸۸۹ تنه معلولیت لرونکي کسان او ۱۹,۷۲۰ بېرته راستانه شوي او داخلي بې ځایه شوي کسان وو.

د یونیسف د مور او ماشوم د نغدي مرستو د پروګرام د اغېزو د ارزونې د منځنۍ مرحلې موندنو څرګنده کړه چې دغو نغدي مرستو د خوړو خوندیتوب، چې د خوړو د مصرف د کچې له مخې ارزول شوی[11]، په څرګند ډول ښه کړی او همدارنګه یې د هغو میندو شمېر زیات کړی چې خپلو ماشومانو ته یې یوازې د مور شیدې ورکولې. د ثانوي اداري معلوماتو تحلیل هم وښودله چې دې پروګرام د امیندوارۍ د پاملرنې خدماتو، د ماشومانو د ودې د څارنې او ودې د هڅونې، او واکسیناسیون په برخه کې مثبتې اغېزې لرلې[12].

د لومړنیو خوړو نوښت تر چتر لاندې، یونیسف د فاریاب، غور، هرات، لوګر، ننګرهار، پکتیکا او زابل ولایتونو په اتو ولسوالیو کې ۹,۳۴۳ کورنیو ته یو ځل نغدي مرسته ورکړه. هغه کورنۍ چې له ۶ تر ۱۲ میاشتو عمر لرونکي ماشومان یې درلودل، له دغو مرستو برخمنې شوې، څو د کوچنیانو د خوړو او تغذيې سم لاسي اړتیاوې پوره کړي. له دغه اقدام څخه ۶۴,۶۴۹ کسانو ګټه واخیسته، چې په کې ۴,۰۰۰ معلولیت لرونکي کسان او ۲,۸۱۸ بېرته راستانه شوي او داخلي بې ځایه شوي کسان شامل وو.

## د بشري مرستو رهبري، همغږي او ستراتیژي

یونیسف د تغذيې، اوبو، حفظ الصحې او نظافت او زده کړو د کلسترونو او همدارنګه د ماشومانو د ساتنې د کاري برخې مشري ته چې د خوندیتوب د همغږۍ د پراخې ډلې برخه ده، دوام ورکړ او په افغانستان کې د مخ پر زیاتېدونکو بشري اړتیاوو په ځواب کې یې د همغږو بشري مرستو ملاتړ وکړ.

د بشري مرستو د بیا تنظیم له پلې کېدو وروسته، د بشري مرستو او بنسټیزو بشري اړتیاوو د همغږۍ جوړښتونو بدلون ته دوام ورکړ، څو اغېزمنتوب، سیمه ییزه ونډه، د شواهدو له مخې لومړیتوب ټاکنه او د بشري او اوږدمهاله ځواب ویلو ترمنځ بشپړوونکې همغږي لا پیاوړې شي. د مرستو په نوي جوړښت کې ګډې همغږۍ پلېټفارمونه رامنځته شول، خو د بشري همغږۍ جلا جوړښتونه او د هغوی د حساب ورکولو مسؤلیتونه پر خپل ځای پاتې شول.

په ولایتي او سیمه ییزه کچه، د ځایي همغږۍ تګلاره د زون په کچه د پنځو ټیمونو او ۳۴ عملیاتي همغږۍ ټیمونو له لارې پراخه شوه. د عملیاتي همغږۍ ټیمونه د ولایتونو په کچه د بشري عملیاتو د همغږۍ او بېړني غبرګون اصلي میکانیزم پاتې شول او د هېواد په ټولو سیمو کې فعال وو. همدارنګه، د زون په کچه د دایمي حل لاروکاري ډلو او د زون په کچه ټیمونو په جوړښت کې د بدلېدو په برخه کې هم پرمختګ وشو، چې د بشري مرستو، دایمي حل لارو او د بنسټیزو بشري اړتیاوو د پروګرامونو ترمنځ اړیکې یې لا پیاوړې کړې.

د راپور ورکولو د مودې تر پایه، په ځینو سیمو کې د زون په کچه ټیمونه په بشپړه توګه فعال شوي وو، خو په نورو سیمو کې د بدلون بهیر لا هم روان و. د ۲۰۲۶ کال په دویمه نیمايي کې به هڅې په دغه بدلون د بهیر پر بشپړولو، د زون په کچه د ارزونو او پلان جوړونې پر پیاوړتیا، د همغږۍ د جوړښتونو ترمنځ د معلوماتو د شریکولو پر ښه کولو او په نوي جوړښت کې د زون په کچه د همکارو مؤسسو د ګډون او رهبرۍ پر لا زیاتولو متمرکزې وي.

## د تغذيې کلستر

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمايي کې، د تغذيې کلستر خپلې هڅې په هغو ۳۴۲ ولسوالیو کې متمرکزې کړې چې د خوړو د خوندیتوب د پړاوونو د هر اړخیزې طبقه بندۍ (IPC) له مخې د ۳ او ۴ درجې د خوړو د جدي ناامنۍ په کچه د هېواد د ۲۷ ولایتونو برخه وې. په دې موده کې، ټولټال ۱.۶۵ میلیونه کسانو

[11] د نغدي مرستو، د ټولنیز او چلند بدلون اقداماتو او د کورنۍ په کچه د هڅوونکو اقداماتو څخه د برخمنې شوې ډلې د خوړو د مصرف کچه کنټرول ګروپ په پرتله ۵.۸ نمرې لوړه شوې.

[12] یونیسف افغانستان .(۲۰۲۶) د مور او ماشوم د نغدي مرستو د پروګرام (۲۰۲۴–۲۰۲۶) د اغېزو ارزونه: د منځنۍ مرحلې راپور .د لاسرسي پته: https://www.unicef.org/evaluation/reports#/

ته د ژوند ژغورنې تغذيوي خدمات وړاندې شول، چې د کلنۍ موخې ۲۹ سلنه جوړوي. له دغو ګټه اخیستونکو څخه څه باندې ۵۳۳ زره د پنځو کلونو څخه کم عمره ماشومان او ۱.۱۶ میلیونه امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې وې.

د تغذیې کلستر همکارو مؤسسو په ټول هېواد کې د ثابتو او ګرځنده تغذيوي مرکزونو له لارې د درملنې خدمات وړاندې کړل. د راپور ورکولو په موده کې، ۲۲۷,۶۲۱ د شدیدې حادې خوارځواکۍ (SAM) لرونکو ماشومانو له بستر پرته درملنه ترلاسه کړه، ۲۶,۲۱۶ ماشومانو چې د شدیدې حادې خوارځواکۍ له پېچلتیاوو سره مخ وو، په روغتونونو کې تر درملنې لاندې ونیول شول او ۱۰۵,۰۹۶ هغه ماشومان چې د لوړ خطر لرونکې متوسطې حادې خوارځواکۍ (MAM)سره مخ وو، تر درملنې لاندې راغلل. پردې سربېره څه باندې ۱.۰۳ میلیونه پالونکو، امیندوارو او شیدې ورکوونکو ښځو ته د مور، ماشوم او کم عمره ماشوم د تغذیې (MIYCN) په اړه مشورې ورکړل شوې.

د هېواد په ډېرو برخو کې د تغذیې وضعیت لا پسې خراب شو. د ټولنې پر بنسټ د تغذیې د څارنې د ټاکلو مرکزونو معلوماتو وښودله چې د ۲۰۲۵ کال د همدې مودې په پرتله، په ۲۶ ولایتونو کې د خوارځواکۍ کچه لوړه شوې ده او وضعیت د خوارځواکۍ د اوج له موسم څخه مخکې لا خراب شوی و. د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ او دویمه ربعه کې د حادې خوارځواکۍ عمومي کچه لوړه شوه او تر دوو کلونو کم عمره ماشومان تر ټولو ډېر اغېزمن شول، څکه د شدیدې او متوسطې حادې خوارځواکۍ ډېرې پېښې په همدغه عمر ګروپ کې ثبت شوې.

سره له دې چې عملیاتي ستونزې موجودې وې، د شدیدې حادې خوارځواکۍ (SAM) د درملنې پایلې د Sphere د معیارونو له مخې د منلو وړ پاتې شوې، او په ملي کچه د رغېدو کچه ۷۷.۴ سلنه وه. خو د متوسطې حادې خوارځواکۍ (MAM) د درملنې پروګرامونه د تجهیزاتو او مالي سرچینو د کمښت له امله اغېزمن شول.

د تغذیې کلستر همکارو مؤسسو د بېړني چمتووالي او غبرګون د پیاوړتیا هڅو ته دوام ورکړ، چې په کې له بېرته راستانه شویو کډوالو، داخلي بې ځایه شویو خلکو او هغو ټولنو سره مرسته شامله وه چې د زلزلو او نورو ناورینونو له امله اغېزمنې شوې وې. د راپور ورکولو په موده کې، په بېړنیو شرایطو کې څه باندې ۹۹ زره ماشومان او امېندوارې او شیدې ورکوونکې ښځې د حادې خوارځواکۍ له پلوه وځېړل شول، چې په پایله کې یې د شدیدې او متوسطې حادې خوارځواکۍ لرونکې ماشومان وپېژندل شول او تر درملنې لاندې ونیول شول او څه باندې ۲۲,۷۰۰ پالونکو ته د ماشومانو او کم عمره ماشومانو د تغذیې اړوند مشورې ورکړل شوې.

د بودیجې کمښت لا هم د تغذیې د ځواب ویلو پر وړاندې تر ټولو ستر خنډ پاتې دی. د ۲۰۲۶ کال تر جون میاشتې پورې، د بشري اړتیاوو او غبرګون د پلان (HNRP) له مخې د اړتیا وړ ۲۹۸ میلیونه امریکایي ډالرو څخه یوازې ۴۳ سلنه تمویل شوي وو، چې نږدې ۱۷۱ میلیونه امریکایي ډالره تشه پاتې کېږي. د دې له امله، د تغذیې خدماتو شتون لا هم کم شوی، یو شمېر تغذيوي مرکزونه او ګرځنده روغتیا او تغذیې ټیمونه تړل شوي او د زیانمنو ماشومانو او امېندوارو او شیدې ورکوونکو ښځو ژوند ژغورونکو خدماتو ته لاسرسی نور هم محدود شوی دی.

## د زده کړې کلستر

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمایي کې، د زده کړو د کلستر همکارو مؤسسو د لنډمهاله زده کړو ځایونو او د محلي زده کړو او محلي ښوونځیو (CBE/CBS) پروګرامونو له لارې ۱۹۲,۸۶۱ ماشومانو ته، چې ۱۱۶,۴۷۱ یې نجونې وې، د زده کړې زمینه برابره کړه. هڅې پر دې متمرکزې وې چې د ناورینونو له امله اغېزمنو شوو، له ښوونځي څخه پاتې او محرومو ماشومانو ته د زده کړې دوامداره لاسرسی وساتل شي. د محلي ښوونځیو د پروګرام پراختیا د پوهنې وزارت سره د نوي ماډل د وروستۍ هوکړې د ځنډ له امله تر اټکل شوې کچې ورو پر مخ ولاړه؛ خو د دغه ماډل له تایید وروسته تمه ده چې د کال په دویمه نیمایي کې به نور تولګي هم رامنځته شي.

د درسي او زده تدریسي موادو برابرول لا هم د تعلیمي توکو د تصفیې او لېږد په برخه کې د ځنډونو له امله اغېزمن شوي وو، چې په ځینو له ناورینونو اغېزمنو سیمو کې یې د ملاتړ د پراخولو کچه محدوده کړې وه. د زده کړو برخې همکارو مؤسسو د اړینو موادو د خوشي کولو او وېش د اسانتیا لپاره خپلو هڅو او مدافعې ته دوام ورکړ.

د وګړو خوځښتونو د بېرته راستنېدو په سیمو کې د زده کړو پر خدماتو فشار زیات کړ. د راپور ورکولو په موده کې، د زده کړو د کلستر همکارو مؤسسو په مهمو سرحدي نقطو کې بېرته راستنېدونکو ماشومانو او د هغوی کورنیو ته د شته زده کړو خدماتو او د نوم لیکنې د لارو چارو په اړه معلومات وړاندې کړل، چې د بېرته راستنېدو او بیا یوځای کېدو په سیمو کې یې زده کړو ته د لاسرسي ملاتړ وکړ.

د راتلونکې لپاره تمه ده چې د بېرته راستنېدونکو د راتګ نور زیاتوالی به په ځانګړي ډول د هغو ولایتونو کې چې د بېرته راستنېدونکو شمېر پکې لوړ دی، د زده کړو خدماتو ته اړتیا نوره هم زیاته کړي. د زده کړېزو ځایونو د پراخولو، د ښوونکو د ګومارنې او ملاتړ، د درسي او تدریسي موادو د برابرولو او په بېړنیو حالاتو کې د زده کړو (EiE) د اقداماتو د پیاوړتیا لپاره به اضافي پانګونې ته اړتیا وي، څو زیانمنو ماشومانو ته د زده کړې دوامداره لاسرسی یقیني شي.

## د ماشومانو د خوندیتوب کاري ډله

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نیمایي کې، د ماشومانو د خوندیتوب د کاري ډلې همکارو مؤسسو د هېواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې په ۱۷۲ ولسوالیو کې خدمات وړاندې کړل، چې ټولټال ۱۳۹,۹۱۶ کسانو ته یې لاسرسی پیدا کړ، په دې کې ۱۰۹,۶۱۹ ماشومان او ۳۰,۲۹۷ پالونکي/مراقبین شامل وو. هڅې پر دې متمرکزې وې چې د بې ځایه کېدو، بېرته راستنېدو او نورو بشري ناورینونو له امله د زیانمنو ماشومانو مخ پر زیاتېدونکو خوندیتوب اړتیاوو ته ځواب ووایي.

ټولټال ۲,۵۲۶ زيانمنو ماشومانو، چې ۱,۱۸۵ يې نجونې وې، د قضيو د مديريت او د ماشومانو د خونديتوب ځانګړي خدمات ترلاسه کړل. په دغو خدماتو کې د بې سرپرسته او له کورنيو د جلا شويو ماشومانو، د تاوتريخوالي له زيانمنو شوو ماشومانو او هغو ماشومانو ملاتړ شامل و چې د ناوړه ګټې اخيستنې، استثمار او غفلت له خطر سره مخ وو. د کورنيو د موندنې او يوځای کېدو خدماتو له کورنيو سره د ۲,۴۰۹ ماشومانو په بيا يوځای کېدو کې مرسته وکړه، په داسې حال کې چې ۵۷۶ ماشومانو لنډمهاله پاملرنه ترلاسه کړه او ۶۵ ماشومانو د قضيو د مديريت د ملاتړ په چوکاټ کې نغدي مرسته ترلاسه کړه. د دغو خدماتو نږدې ۸۰ سلنه ماشومان له ايران او پاکستان څخه بېرته راستانه شوي وو، چې د لويو بېرته راستنېدنو له امله د ماشومانو د خونديتوب د پام وړ اړتياوې څرګندوي.

د رواني روغتيا او رواني ټولنيز ملاتړ (MHPSS) خدماتو ۳۷,۷۳۳ کسانو ته، چې ۳۲,۴۱۴ ماشومان پکې شامل وو (۱۶,۴۰۱ نجونې)، خدمات وړاندې کړل. دغه خدمات تر ډېره په سرحدي نقطو، د لنډمهاله استوګنې مرکزونو او د بېرته راستنېدو په سيمو کې وړاندې شول. پردې سربېره، ۹۰۳ ماشومان ځانګړو رواني روغتيايي خدماتو ته راجع شول. د ماشومانو پر وړاندې د تاوتريخوالي د مخنيوي په اړه د ټولنې د پوهاوي فعاليتونو ۷۳,۶۵۷ کسان تر پوښښ لاندې راوستل، چې د ماشومانو د خونديتوب د خطرونو او شته مرستندويه خدماتو په اړه يې پوهاوی زيات کړ.

يونيسف او همکارو مؤسسو د مهمو سرحدي بندرونو لکه هرات، تورخم، سپين بولدک او ميلک کې د لنډمهاله پاملرنې د مرکزونو له لارې د خونديتوب خدماتو ته دوام ورکړ، چيرې چې د بېرته راستنېدونکو د زياتېدونکي شمېر له امله د ماشومانو د خونديتوب اړتياوې هم لوړې شوې دي.

د خونديتوب د خدماتو د کيفيت د پياوړتيا لپاره، څه باندې ۱۸۱ د ماشومانو د خونديتوب کارکوونکو او ۵۳۰ ټولنيزو رضاکارانو د ماشومانو د خونديتوب د معيارونو، د خطرونو د پېژندنې او د راجع کولو د لارو چارو په اړه روزنه ترلاسه کړه. د ماشومانو د خونديتوب د معلوماتو د مديريت سيستمونه هم د (CPIMS+)له لارې نور هم پياوړي شول، چې د ۲۱ همکارو مؤسسو له خوا تر اوسه څه باندې ۲۲,۶۱۰ قضيې پکې ثبت شوې دي.

## د اوبو، حفظ الصحې او نظافت کلستر

د ۲۰۲۶ کال په لومړۍ نيمايي کې، د اوبو، حفظ الصحې او نظافت (WASH) کلستر همکارو مؤسسو د هغو خلکو لپاره د ژوند ژغورنې WASH مرستې برابرې کړې چې د وچکالۍ، سېلابونو، زلزلو، د شديد نس ناستي ناروغۍ (AWD) خپرېدو، بې ځايه کېدو او له ايران او پاکستان څخه د بېرته راستنېدونکو کسانو د زياتېدونکو شمېرو له امله اغېزمن شوي وو. د کلستر همکارو مؤسسو ۲.۳۴ ميليونه خلکو ته د څښاک، پخلي او ځاني حفظ الصحې لپاره د کافي او پاکو اوبو د ترلاسه کولو زمينه برابره کړه، په داسې حال کې چې ۱.۱۶ ميليونه کسانو ته د جنسيت او معلوليت مطابق تشنابونو اسانتياوې برابرې شوې. پردې سربېره، ۱.۶۶ ميليونه کسان د حفظ الصحې د ترويج له فعاليتونو څخه برخمن شول، ۱.۴۰ ميليونه کسانو اړين WASH وسايل ترلاسه کړل او ۷۷۷،۱۵۳ کسانو په ښوونځيو، روغتيايي مرکزونو او تغذيې مرکزونو کې د WASH له ښه شويو خدماتو ګټه واخيسته. همکارو مؤسسو همدا راز د اقليم پر وړاندې د مقاومت لرونکو اوبو بنسټيزې شبکې بيا رغولې او پراخې کړې، څو د خوندي اوبو دوامداره لاسرسی ښه او د ټولنو مقاومت د تکراري اقليمي اغېزو پر وړاندې پياوړی شي.

همکارو مؤسسو د بېرته راستنېدونکو کسانو د زياتېدونکو شمېرو د ملاتړ لپاره په مهمو سرحدي نقطو کې د WASH بېړني خدمات وسائل او په اغېزمنو ټولنو کې يې د خوندي اوبو، حفظ الصحې، د حفظ الصحې د پوهاوي او د WASH اړينو توکو ته لاسرسی پراخ کړ. هڅې همدا راز د اوبو د کيفيت د څارنې، د حفظ الصحې د ترويج او د روغتيايي برخې له همکارو مؤسسو سره د همغږۍ له لارې د شديد نس ناستي ناروغۍ د چمتووالي او ځواب پياوړتيا ته متمرکزې وې. کلستر د ناروغيو د خپرېدو، اقليمي پېښو او د بېرته راستنېدونکو لپاره د احتمالي پلان جوړونې او چمتووالي ملاتړ هم وکړ. د تودوخې زياتوالی، د وچکالۍ اوږدمهاله شرايط او د محدودو اوبو سرچينو باندې زياتېدونکی فشار، بشري اړتياوې لا زياتې کړې او د اوبو له لارې د خپرېدونکو ناروغيو خطر يې لوړ کړ.

د WASH کلستر د ملي او سيمه ييزو همغږۍ ميکانيزمونو، د شديد ناستي کاري ډلې غونډو، له تمويلوونکو سره د اړيکو او په سرحدي برخو کې د ځواب ويلو د همغږۍ له لارې له دولتي اړوندو ادارو، بشري مرستندويو همکارو ادارو او د سکتورونو ترمنځ د همغږۍ له جوړښتونو سره نږدې همکارۍ ته دوام ورکړ، څو د خلکو د راتګ لپاره چمتووالی پياوړی، همغږي ښه، عملياتي خنډونه حل او د WASH اړينو خدماتو دوام تضمين شي. د مدافعې هڅې د عملياتي اجازو د اسانتيا، د سرچينو راټولولو، په لوړه اړتيا لرونکو سيمو کې د همکارو مؤسسو د حضور پياوړتيا او د شته سرچينو د اغېزمن استعمال لپاره متمرکزې وې.

سره له دوامداره ځواب ويونکو هڅو، د تمويل/بوديجې د پام وړ کمښت، د عملياتو د لګښتونو زياتوالی، د بيړنيو توکو محدود شتون او اداري خنډونو لا هم د فعاليتونو پر پراخوالي اغېز کړی. د بېرته راستنېدونکو کسانو دوامدار راتګ، د وچکالۍ خرابېدونکي شرايط او د شديد نس ناستي د خطرونو زياتوالی تمه کېږي چې د ځواب ويلو پر وړتياوو نور فشار هم راولي؛ له همدې امله د دوامدار تمويل او پياوړو عملياتي همکاريو اړتيا لا ډېره ده. د چمتووالي او د اقليم پر وړاندې د مقاومت لرونکو WASH فعاليتونو کې دوامداره پانګونه به د راتلونکو بشري خطرونو د کمولو او د اړينو خدماتو د دوام لپاره حياتي وي.